UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی اعلامیه
http://unama.unmissions.org

**"بیا یوځای کیدل د سولې د یوې پراخې پروسې د یوې برخې په توګه"**

کابل، ۱۰ می ۲۰۱۱: په داسی حال کی چی د سولې، پخلاینې او بیا میشته کیدو د پروګرام د پلی کیدو د مناسبت کنفرانس نن د په کابل کی پرانیستل کیږی، د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي په افغانستان کی (یوناما) د ملي پخلاینې د یوې پراخې پروسې په دننه کې د دغه افغان رهبري شوي نوښت په هکله د خپل ملاتړ بیا اعلان کوي.

"د سولې او پخلاینې پروګرام د جنګیالیو د هڅونې په برخه کې مهم رول لري چې د هیواد په کچه د خپلو ټولنو سره یو ځای شي او ځایي شکایتونو ته د حل لار پیدا کړي. د دې په خاطر چې د پام وړ پایلې تر لاسه شي، دا پروسه باید هرومرو د ټولنو پر بنسټ ولاړه، شاملونکي او متساوي وي."

د شخړې سره مخ هیوادونو کې د ملګرو ملتونو تجربې ښولې ده چې په ډیرو کچو کې د شخړې د هوارۍ لپاره بوختیاوو ته اړتیا لیدل کیږي.

د یوناما استازی په دی کنفرانس کی وویل : "د یو شمیر ننګونو او روانو شخړو په نظر کې نیولو سره باید وویل شي چې موږ د سولې او پخلاینې د ملي پروګرام د لنډ مهاله لاسته راوړنو په هکله واقعي او ریښتیني و اوسو. دا د ملي پخلاینې د یوې پراخې پروسې یو مهم عنصر دی."

د بیا یو ځای کیدونکو او د هغوي د ټولنو سره د ټولنیزو او اقتصادي فرصتونو د برابرولو له لارې، د سولې او پخلاینې ملي پروګرام کولای شي د ټولنې د ښیرازۍ او رغونې ته وده ورکړي، کار رامنځ ته کړي او همدارنګه د شخړې له امله اغیزمن شویو ټولنو ته ټیکاو ور په برخه کړي.

د دې په خاطر چې خپل پوتانسیال ته تحقق ورکړي، د سولې او پخلاینې ملي پروګرام د افغان چارواکو او نړیوالې ټولنې ګډو هڅو ته اړتیا لري څو دا باوری کړي چې په دې هکله ټولې هڅې په یوه لیکه برابرې دي او د ارزونې او پلټنې اغیزمنی کړنلاری شته، او دا چې موجودې سرچینې ضایع نه شي.

په عین حال کې حکومت ضد عناصر باید د هغو کسانو په وړاندې چې له تاوتریخوالی څخه لاس په سر کیږی او د خپلو ټولنو سره بیا یو ځای کیږي د هر ډول ګواښ او بریدونو څخه ډډه وکړي.

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**